## مطبوعاتي اعلاميه

### د سوريې انقلاب، چې د اتو کلونو په ترڅ کې درد، جګړه او خيانت پر ځای پرېښي دي، بالاخره د الله سبحانه وتعالی په اراده به بريالی شي



**(ژباړه)**

د سوريې انقلاب، چې «خلک د رژيم ورکېدل غواړي» تر شعار لاندې د «درعا» د ماشومانو په واسطه پر دېوالونو پيل شو او اوس اتم کال ته رسېږي. د دغو اوو کلونو په ترځ کې ټول د ظالمانو تر ظلم لاندې راغلي او ټکول شوي دي، لکه څنګه چې لوی او واړه، نر او ښځې ترې خوندي پاتې نه شول او هر څه د هغوی تر ظلم لاندې شول او په همدې ډول هېڅ پخوانی ښار، مسجد او کور له هغوی خوندي نه دی پاتې شوی. لکه څرنګه چې الله سبخانه وتعالی وفرمايل:

**﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾**

[بروج: ۸]

**ژباړه:** *د دوی ګناه يوازې دا وه چې په عزيز او حميد خدای يې ايمان درلود*

دغو مخلصو خلکو له لومړيو څخه دا ښودله چې له الله پرته بل څه نه لري په دغو اوو کلونو کې د اسد د ملاتړو، ايران او په لبنان کې يې حزب، روسيې، امريکا او د ائتلاف ځواکونو، جاسوسي جنايتکارو سازمانونو او هغو حکامو ته، چې چټلو سياسي پيسو ته هڅېږي، هېڅکله نه دي په ګونډو شوي. هغوی عامه وژنو ته، چې د

امریکا تر نظارت او د ملګرو ملتونو تر سرپرستۍ لاندې تر سره کېږي، سر نه دی ټیټ کړی. هغوی په دې دلیل چې پر دوی د ټپل شوي بشري نظام وړاندیز یې نه دی منلی او په مقابل کې یې قرباني ورکړه، د خپلو کورونو او خاورې پرېښودل یې منلي، خو له خپل مقاومت څخه یې لاس نه دی اخیستی. هغوی له هغو کسانو څخه ملاتړ نه دی کړی، چې انقلاب او د شهیدانو وینې یې د سازمانونو او په ژینو، ریاض او استانه کې د چلبازو تشکیلاتو پر چوکیو معامله کړې او همدارنګه هغه لاسپوځي یې هم درک کړل، چې امریکا د اسد پر ځای وړاندیز کړي وو. په داسې حال کې چې دوی تر سختو شرایطو لاندې او د ژوندي پاتې کېدو لپاره د کمو فرصتونو په لرلو سره له هېڅ اسلامي هېواد څخه، چې د هر ډول ځواک او قدرت خاوندان دي، ملاتړ ونه لید په داسې حال کې چې اسلام دوی ته امر کوي، چې له ظلم څخه د مسلمانو خویندو او وروڼو د ژغورلو لپاره وخوځېږي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا﴾**

[نساء: ۷۵]

***ژباړه:*** *پر تاسې څه شوي چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د هغه بېوسو نېځو او ماشومانو لپاره نه جنګېږئ، چې کمزوري شوي او فریادونه کوي چې «اې زموږ ربه! موږ له دغه وطنه چې اوسیدونکي یې ظالمان دي، وباسه او له خپل لوري څخه زموږ سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»*

هغوی د دې پر ځای چې مظلوم په خوا کې وجنګېږي، له ظالم سره یې مرستې ته ترجیح ورکړې، اډې یې ورته پرانیستلې او له صلیبي ملګرو سره یې یو ځای شول. هغوی قاتل اسد ته د یوه زمري په سترګه ګوري، چې د روسیې په واسطه او د ایران په ضمانت جوړ شوی دی. ټول هغه خلک چې پرون یې ویل: «اسد باید ولاړ شي» نن مستقیم یا غیر مستقیم وايي: «له هغه سره خبرې کولی شو.» هغه کسان چې په سوریه کې د روسیې شتون ګواښي، نن وايي: «روسیه هم په سوریه کې د سیاسي حللارې یوه برخه ده.» هغه خلک چې د لومړي ځل لپاره یې د حلب په سقوط کې رول درلود، نن د ادلب د سقوط لپاره کار کوي. هغوی د ورسپارل شویو کارنو په ترسره کولو کې له امریکا څخه د کنټرول د پراخوالي په دلیل وېرېږي، په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤُمِنِينَ﴾**

[توبه: ۱۳]

***ژباړه:*** *ایا له هغوی څخه وېرېږئ؟ الله سبحانه وتعالی ددې ښه حقدار دی چې ور څخه ووېرېږئ ، که تاسې مومنان یاست.*

اې د شام خلکو! ستاسو انقلاب د اشغالگرو کابوسونه، خیانتونه، وژنې، ویجاړی، اوښکې او زیاتې وینې لیدلې دي، خو تاسې به په هغه اعتماد، یقین او توکل چې د انقلاب په پیل کې مو په هغه سبحانه وتعالی درلود د الله سبحانه وتعالی په اراده د نصرت او کامیابی شاهد وی. په دغه دلیل تاسې باید پر یوه سیاسي مخلص رهبر او کتلې باندې را ټول شئ او دعوت، فعالیت او هڅې مو سره یو کړئ، چې دغه اسلامي انقلاب د رسول الله صلی الله وسلم په طریقه د خلافت د دولت لامل شي او الله سبحانه وتعالی تاسې ته د کامیابی وعده درکوي، لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یې وعده وکړه:

**﴿وَيَنصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا﴾**

[فتح: ٣]

***ژباړه:*** *الله تعالی به ستا مرسته په قوي کامیابی سره وکړي.*

**د حزب التحریر- ولایه ترکیې مطبوعاتي دفتر**

**د صدورگڼه:٢٠١٨/٠٠۴**

**١۴٣٩هـ.ش، د جمادي الثاني ٢٧مه**

**٢٠١٨م، د مارچ ١۵مه**